امارت اسلامي افغانستان
ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء
معاونیت امور روابط عامه و استراتیژیک
ریاست مطالعات و پلانگذاری

محرم
عاجل
عادی

شماره: ۱۰۵۷
تاریخ: ۱۴۴۷/۳/۲۵
ضمایم:

بسم الله الرحمن الرحيم

**د رياست الوزراء مقام محترم اقتصادي معاونيت ته!**

**السلام عليكم و رحمت الله و بركاته!**

لكه څرنګه چې پوهېږئ، د رياست الوزراء عالي مقام دفترعمومي رياست د عامه اوستراتيژيكو اړيكو معاونيت تل هڅه کړې ده، څو د کورنيو او بهرنيو رسنيو څارنې له لارې د افغانستان په اړه مهمې پېښې تر پوښښ لاندې راولي.

دا چې د افغانستان په اړه د معتبرو رسنيو او نړيوالو سازمانونو رپورټونه، د ګنيو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو د ويبپاڼو منځپانګه او په ټولنيزو رسنيو کې د افغانستان لپاره د هېوادونو د ځانګړو استازو فعاليتونه د ۱.۱.۱ چارواکو ته د معلوماتو برابرولو تر څنګ د تصميم او دريځ نيولو په برخه کې اسانتيا برابروي. نو په همدې اساس، د عامه او ستراتيژيكو اړيكو معاونيت د دغو رسنيو او د هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو د ويبپاڼو څارنې له لارې ځانګړې اوونيز بولېټن چمتو کړی چې ستاسو قدرمن حضور ته وړاندې کېږي.

د يادولو وړ ده چې دغه بولېټن به د هرې اوونۍ په پای کې چمتو او عالي‌رتبه مقاماتو حضور ته وړاندې شي. همدارنګه په ياد بولېټن کې تر هر راپور لاندې يو ځانګړی چوکاټ راړول شوی چې په کې به عالي رتبه مقامات د بېلابېلو موضوعاتو په اړه خپل هدايات او حكمونه له مسوولو ادارو سره شريک کړي.

**والسلام**

**داكتر ملا عبدالواسع خادم**

**د رياست الوزراء مقام د دفتر لوي رئيس**

کاپي:

- د رياست الوزراء مقام اداري معاونيت
- د رياست الوزراء مقام د دفترعمومي رياست
- د افغانستان اسلامي امارت د وياند دفتر